DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکزطرفي خپلواکه ورځپاڼه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال ششم شماره ۹۰
شماره مسلسل ۹۵۷
سه شنبه ۲۳ حوت ۱۳۸۴ هش
۱۳ صفر المظفر ۱۴۲۷ هـ ق
14 March , 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

ملاعمر د ۴ تنو بهرنیانو داعدام امر ورکړی دی

د طالب اورپکو یو ویاند د قندهار له سپین بولدک څخه د رویټرز خبری رسنی ته ویلي چې د طالبانو مشر ملا محمد عمر د ۴ تنو بهرنیانو د اعدامولو فرمان ورکړی دی ۳ البانیان او یو تن المانی د شنبې په ورځ د هلمند دګرشک له سیمې څخه له ۴ تنو افغانانو سره یو ځای تبښتول شوی وو ، چې پرون یوازې ۴ تنه افغانان بیرته خوشي شول . دطالب اورپکو ویاند قاري یوسف د ملا عمرفرمان داسې لوستی ، دغه کسان د امریکا په لاربنونه افغانستان ته راغلي چې له دې امله د اعدام په جزا محکوم شول ، د قندهار والی پرون وویل پرته له دې چې دولتی چارواکی پرې خبر شي دغو کسانو په دغه سیمه کې تګ راتګ کړی دی تر دم ګړی د عدام حکم پر دغو بهرنیانو نه دی پلی شوی او افغان چارواکی یې د خلاصون له پاره هلی ځلی کوي

علت وضعیت خراب امنیتی

شماری از کارشناسان و شهروندان کابل میگویند که نبود افراد مسلکی در پوست های اساسی وزارت داخله باعث شده است ص۴

۳ تنه د هلمند په چاودنو کې وژل شوي دي

پر داسې مهال چې په افغانستان کې د امریکا سفیر د هلمند څخه پرون په لیدنه بوخت و ، ددغه ولایت د دیشو ولسوالی په اړوند سیمه کې د یو ځای پرځای شوي ۴مخ



پاسخ به خبر منتشره
(اختلاس در وزارت معارف)

به اداره محترم روزنامه اراده به امید سلامتی وموفقیت دست اندرکاران شما امید است مطلب ذیل را در روزنامه وزین اراده نشر وممنون سازید. ص۴

په کنړ کې دولس مشکوک طالبان ونیول

د ملي دفاع دوزارت مطبوعاتي دفتر د خبر له مخې په کنړ ولایت کې دیولړ تصفیوی او جګړه ییزو عملیاتو په ترڅ کې ۱۲ تنه مشکوک طالبان نیول شوی دی په خبرو کې راغلي داعملیات وروسته له هغه شوی دی چې ددې ولایت په پیچ دره کې دریموټ کنترول په واسطه د چاودنو له املې دامریکا په مشرۍ دائتلافي ځواکونو ځلورکسه وژل شوی .

دیوبل خبر له مخې دپکتیا په مانو کې سیمه کې دیولړ تصفیوی عملیاتو په ترڅ کې یوه اندازه چاودیدونکی توکي، وسلې او مهمات دامنیتي ځواکونو لاس ته ورغلي دی

سرمقاله

دولت څومره خپل ولس غیږ ته نږدې کړی؟

دنړیوالو ځواکونو او زمونږ دخپلو پوځونو له شته والی سره سره دهرې ورځې په تیریدو سره سراسری امنیت دتخریبی عناصرو او غلو دناوړه اعمالوپه کولو سره خرابیږي چې دهیوادوالو اندیښنې یې رامنځته کړی دی.

دانښکاره او څرګنده ده چې تخریبی او تروریستی عناصر دپولو له هغې خواوو څخه دپاکستان د آی ایس ای په هر اړخیزه مرسته دپرون په څیر روزل کیږي وسله وال کیږي او ر الیږل کیږي.

د نیول شوو تخریبی عناصرو له ویناوو او اسنادو څخه داسې څرګندیږي چې دښمنان زمونږ په هیواد کې دسراسری امن او هیواد دپرمختیا لپاره سترګې نه شي غړولی دا خو دمسئلې یو اړخ دی چې داوسنیو ګډوډیو ، جګړو او ځان مرګو بریدونو اوتبښتونو پرې په بهرنیو معلوم الحاله کړیو اچوو.

پوښتنه داده چې د دومره زیاتو نړیوالو ځواکو له شته والی څخه چې په عصری وسایلو او وسلو سمبال دی او زمونږ خپل ملی ځواکونه هم ورسره دی ولې دتخریبی عناصرو په وړاندې له کمزورې سره مخامخ دی، او تخریبی عناصر دهیواد زړه ته دتخریب لپاره راتللای شي او ولې دخلکو دغه پراخه پرتې پرګنې چې په خفیفو وسلو هم سمبال دی او بې شمیره ځوانان په کې هم اوسیږي دداسې تخریبی عناصرو مخه نه شي نیولای اویا یې نه نیسی او له خپل دولت سره دهمکاری په کولو کې خانونه وروسته کوی.

مونږ دخلورو کلونوپه اوږدو کې که څه هم نسبی بریاوې هم ترلاسه کړی دی خودخلکو دژوندانه په ښه والی او بوختیاوو او دخلکو لپاره داستوګنې دکورونوپه برابرولو کې هیڅ پاملرنه نه ده شوې او ټولې ټاکنې په ارتباطاتو او تمایلاتو شوی دی خلك له دولت څخه خفه او باور یې په اوسنی دولت له منځه تللی دی دهغو وکیلانو په هکله چې یې رایی ورکړی دی بیرته بې باوره شوی په کلیو او باندو کې اولسونه په دولت او ملی شورا باندې زیات نیوکې لري.دا ټولې ناخوښې ددې سبب شوی دی چې داولس او دولت ترمنځ د بې باوری کرښه پراخوالی پیدا کړی او دتخریبی عناصرو په وړاندې بی تفاوته اوسی اودهغوی دتخریب لپاره زمینه برابره شي او آن دهیواد په زړه کې هم خپل تخریب ته ادامه ورکړی که مونږ له یوې خواد پاکستان په استخباراتو پرې اچوو باید چې په خپل ګریوان کې هم سر ښکته کړو چې څومره له مونږ څخه خلك خوشحاله دی او دولت څومره خپل اولس خپلې غیږې ته نږدې کړی او څومره یې ورته دمعیشت دجوړولو لپاره کار کړی دی.

۴ تنه د یو ماشوم دوژلو په تور نیول شوی دی

دقندهار امنیتي چارواکو په دغه ښار کې د یو ۱۰ کلن ماشوم د وژلو په تور چې د شنبې په ورځ د خپل کور له مخې ناپیژانده کسانو تبښتولی و ، خلور تنه نیولي دي ،دماشوم مړی هغه مهال د یو شمیر کوچیانو له خوا د یو پله لاندې ترستر ګو شوی و چې پلار یې نه و توانیدلی د خپل زوی د خلاصون په بدل کې تبښتونکو ته ۲ میلیون افغانی چمتو کړي.تبښتونکو ددغه ماشوم له پلار څخه ۲ میلیون افغانی غوښتې وې.د وژل شوي ماشوم پلار د یوې دولتي اداري عادي مامور دی.

انتقاد از بازرسی

مردم در ولایت تخار از بازرسی منزل یکی از متنفذین این ولایت از سوی سربازان ائتلاف شدید انتقاد کردند ص۴

شکایت از روند ضعیف بازسازی

مردم ولایت بدخشان از کندی روند بازسازی در ین ولایت شکایت دارند یکی از شهروندان این ولایت که به نمایندگی از مردم بدخشان در اجلاسی که محمد امین فرهنگ وزیر اقتصاد و محمد اعظیم داد فر وزیر عودت مهاجرین در کندز حضور داشتند با اشاره به تغیر در اغاز کار ساختمانی جاده تالقان کشم گفت بار ها ست که برای انها از سوی مقامات وعده داده میشود اما این وعده ها هیچ وقت جامعه عمل نمی پوشند این جاده حدود ۲۵ روز پیش از سوی حامد کرزی رئیس جمهور افتتاح شد اما کار ان هنوز اغاز نشده است او افزود جاده تالقان کشم سال گذشته نیز از سوی نعمت الله شهرانی افتتاح شده اما کار ساختمانی ان اغاز نشده

خواستار اخراج مهاجرین افغان از وزیرستان شمالی

مقامات پاکستان میگویند که هزاران تن از مهاجر ان افغان که در مناطق متشنج وزیرستان شمالی زندگی مینمایند باید به افغانستان بر گردند ص۴

له ایران څخه دکډوالو دخپلې خوښې راتګ اوږدشو

د افغانستان ایران او د کډوالو په چارواکې دملګرو ملتونو دعالی کمیشنری ترمنځ یو ترون شوی چې له مخه به یې له ایران څخه افغانستان ته دراستنیدنکو کډوالو داوطلبانه لیک تمدید کړی شي. ۴مخ

په کربنه د ماینونو دکرلو ناوړه هدف

غلام جیلانی خوالک

جنرال پرویز مشرف د بي بي سي د خبریالي باربرا پلیټ سره په خپله یوه مرکه کي یو ځل بیا د ډیورنډ پر کرښه د دیوال جوړولو او په دي کرښه د ماینونو د کرلو غوښتنه کړي، هغه ویلي موږ د ماینونو په فرشولو کی مهارت لرو، موږ به په خپله خوا ماینونه فرش کړو او افغانستان دي په خپله خوا فرش کړي. ، مشرف په خپلو دي څرګندونو خپل هدف په ډاګه کړي، افغانستان په کراتو، کراتو د ډیورنډ پرکرښه د دیوال جوړولو سره مخالفت کړي افغانستان به هیڅکله کوم داسي وړاندیز ونه مني چي دکرښي دواړه خوا افغانان سره بیل کړي. حیرانوونکي داده چي مشرف دا ځل پر کرښه د دیوال په خوا کي دماینونو د فرشولو وړاندیز کړي، اوس په ټوله نړۍ کی داسی هڅي روانی دي چی په مکمله توګه د ماینونو په جوړولو او کارولو بندیز ولګوي پخپله افغانستان هم همداسي یو ټرون لاسلیک کړي او د هغی نړیوالي ټلوالي غړی دی چی د ماینونوپه جوړولو او کرلو بندیز لګوي، خو مشرف غواړي له دي غیر انساني وسلی نه د کرښی د دواړو خواوو افغانانوترمنځ د بیلتون لپاره کار واخلي او د لرو برافغانانو ترمنځ د اړیکو مخه پري ونیسي.

د یوداسي جنرال په توګه چي تل یي په سیمه کي د خپلو استعماري اهدافو د لاس ته راوړولو په موخه له ترهګري او بنسټ پالنی څخه ملاتړ کړی او اوس هم ورته ادامه ورکوي د هغه ته ډیره اسانه ده چي پرکرښه د ماینونو دفرشولو وړاندیز وکړي، وژل او وراونول له څو لسیزو راپدیخوا د آیی ایس آیی ورځنی تمرین دی، آیی ایس آیی اوس هم له کشمیره تر افغانستانه د ترهګرو اوبنسټ پالانو نه د ملاتړ له لاری خلك وژني او آبادي ورانوي، آیی ایس آیی په مکمله توګه یوه جنایت کارانه سایکالوژي لري او دمشرف دا وړاندیز د پاکستان دپوځ د جنایت کارانه ذهنیت ښکارندوی دی.

پاکستان باید په دي پوه شي چی افغانستان په هیڅ توګه نه د ډیورنډ په ناروا کرښه دیوال جوړول مني او نه پرکرښه د ماینونو فرشول پخواني شوروي اتحاد او آیی ایس آیی لادمخه په ملیونهاوو ماینونه په افغانستان کي کرلی او اوس هم هرکال د زرهاوو افغانانو د وژني لامل کیږي.

د ډیورنډ په ناروا کرښه د دیوال جوړول او یاهم ماینونه کرل نه یواځی د افغانستان حکومت ته بلکی د کرښی نه هاخوا افغانانوته هم په هیڅ توګه دمنلو وړ ندی، خدای ښلي ولي خان، افراسیاب ختك اود پښتونخواه تقریباً ټولو وطنپالو سیاستوالو د ډیورنډ پرکرښه د دیوال جوړول غندلي او مخالفت یی ورسره ښودلي، او د ډیورنډ استعماري کرښه یی د لرو برافغانانو ترمنځ د بیلتون یوه کرښه بللي چی هیڅ افغان ته دمنلو نده، نواوس که پاکستان په خپلي دي غوښتني ټینګار کوي نود آزادي غو ښتني هغه اور چي په بلوچستان کي لګیدلي، لري نده چي پښتونخواه سند اوکشمیر ته هم ورسیږي .

مشرف په دي ښه پوهیږي چي د کرښي دواړه خوا افغانان دا وړاندیز نه مني له بلي خوا په دومره اوږده او غرني پوله د دیوال جوړول اوبیا دهغي ځارنه کول ممکن ندي، او نه په دیوال د ترهګرانو مخه نیول کیداي شي او بیا په تیره چي د دیوال ځارونکي د ترهګرانو ملاتړي وي. نوکه مشرف غواړي د ترهګري مخه ونیسي خو مشرف په یو حقیقت ندي پوه او هغه دا چي ممکنه نده دتل لپاره د نړیوالو په سترګو کي خاوري وشیندي، هم افغانستان اوهم نړیوال اوس په دي ښه پوهیدلي دي چي پاکستان څه کوي او څه کول غواړي پاکستان پخپله وایي چي د باجوړ په برید کي دالقاعدي لوړ پوړي چارواکي وژل شوي، همدا ډول د وزیرستان په سیمه کي ترپنځوسو زیات ترهګري په یوه ورځ وژل شوي او د وسلو زیرمه یي له منځه تللي، نو ستونزه دا نده چي کرښه نه ځارل کیږي او باید کرښه بنده کړي شي، ستونزه داده چي دننه په پاکستان کي ترهګري مراکز له منځه لاړ شي، پاکستان په دي وړاندیز غواړي ځان ته د تیښتي لار پیداکړي خو نور د تیښتي لار نشته، پاکستان دوه لاري لري یادي په زغرده د ترهګرو ملاتړ اعلان کړي اویا دي د ترهګري نه خپل ملاتړ او دا فغانستان په هکله دی خپلی اوسنی پالیسی ته د پای ټکی کیږدي.

ترمنځ افغانانو آړیکي سره وشلیږي اوپاکستان به په ډیره اسانه وکولای شي چي د پښتونخواه قبایلي سیمي دخپل پوره کنترول لاندي راولي

۲- که افغانستان د پاکستان وړاندیز سره مخالفت کوي او پرکرښه د دیوال دجوړیدو مخه نیسي پاکستان ته به پلمه په لاس ورشي چي دترهګري مخه پرکرښي د دیوال جوړولو سره دافغانستان دمخالفت له امله نه نیول کیږي او په دي توګه به د ترهګري نه خپل ملاتړ ته ادامه ورکړي.

ترافیکی جریمی باید د بانکونو په ښاری څانګو کی تحویل شي

خادر

په داسي ټولنو کي چي د ښاری او کلیوالی ژوندانه د سوکالیو او کاری بوختیاوو ترمنځ ډ بیلا بیلو علتونو له املې توازن موجود نه وی د ښاری ژوندانه په لوری د ګڼی ګوڼی د را زیاتیدو په برخه کي له زیاتو ستونزو ځنی یوه هم ترافیکی ستونزه ده چي مونږ اوس د خپل هیواد په مرکز او ولایاتو کي دغه ستونزه لیدلای شو.

په ښارونو کي له یوی خوا د سرکونو د سور کموالی له بلی خوا د سرکونو په غاړه د دکاندارانو پارکینګ هغه ستونزی دی چي اوس عملاً موجود دی او له بلی خوا له ترافیکی مقرراتو څخه د ډریورانو او ځینو ترافیکو سر غړونی هم موجود دی چي له یوی خوا یې قانون تر پښو لاندی کړی او له بلی خوا د زیاتو تراژیدی پیښو د رامنځته کیدو سبب کیږي. لکه چي څو ورځی د مخه دکابل ښار د ترافیکو یو مسوول د تلویزیون له لارۍ پدی هکله چې د نقلیه وسایطو چلوونکی ترافیکی اشاری نه مراعاتوی وویل: ترافیك زنده را در نظر نمی گیرد .ددغه مسوول خبره که چیری وځیږو دا به راته څرګنده شي چي واقعاً همداسی ده چي دنقلیه وسایلو څښتنان ترافیکی اشاری ، قوانین او ان چي ژوندی ترافیك هیڅ ګڼی او دغه جرئت دوی ته پخپله ترافیکو ورکړی دی زیات ترافیك داسی لرو چي ټوله ورځ پدی هڅه کي وی چي څنګه وکړای شی له موټرو انانو څخه په یوه پلمه او بله پلمه پیسی ترلاسه کړی. که چیری لوړ پوړی مسوول دا خبره نه منی او په خپلو ترافیکو څادر اچوی نو داسی دی وکړی چي په شخصی لباس کي د له بارداری لاړی سره ښار ته داخل شي چي د خپلو ترافیکو رحم ورته معلوم شي خو اصلی خبره داده که چیری ترافیك د پیسو په اخیستنه باندی اخته نه وای پوره باور دی چي هر ډریور به خامخا ځان په قانون برابرولو او په ځان به یې تطبیق کاوه.

ډیر خلك پدی اند دی چي ترافیك ډریوران د سرغړونو په صورت کي جریمه کوي که ترافیك هر څومره ځانونه د زم زم په اوبو پریمنځی په دوی باندی تورونه موجود دی چي ترافیك پیسی اخلی لدی املې د ډریرانو د خپلی سری مخه نه نیسي.

اصلی پوښتنه داده چي څنګه کولای شو د ترافیکو په هکله او د بی قانونی په برخه کي بی قانونی له منځه یوسو او وکړای شو دواړه خواوی قانونیت ته برابری کړو. د ترافیکو لوړ مقام ته او په تیره بیا د کورنیو چارو وزارت ته د یوه نظر او پیشنهاد په توګه لیکو چي له ترافیکی قانون ځینی د سرغړونو لپاره باید د ترافیکو د جریمی اوسنی لایحه بدله شي.

پدی ډول چي د ترافیکو د جریمی کتابچی باید کمپیوتری په یوه سایز د تذکرو او پاسپورتونو په ډول په ځانګړو نښو سره چاپ شي.

چي د جعلی پارچو مخه یې ونیول شي.

- په ښاری هر ساحه کي د ترافیکی جریمو د تحویلی په خاطر حساب په بانکونو کي خلاص شي.

- هر ترافیك باید د جریمی په صورت ډریور ته د جریمی پارچه پری کړی پارچه ډرایور ته ورکړی او په مقابل کي یې تری د موټر کاغذونه قید کړی ډریور ته تاکلی وخت ورکړی چي پیسی په بانکی څانګه کي تحویل او خپل کاغذونه او اسناد د بانك د تحویلی د ورقی په مقابل کي بیرته په تاکلی وخت کي ترلاسه کړي.

- که چیری نوموړی ډریور د ښار په کومه سیمه کي تر هغه وخت د مخه چي پسی تحویلوی د اسنادو د لیدو ضرورت پیدا کړی هماغه د جریمی پارچه د سندونو بنه غوره کوی او باید خوشی شي.

- خو که تر تاکلی وخت یې د مخه پیسی تحویل نه کړی او ګیر شو یا یې دویم ځل ترافیکی سرغړونه وکړه د جریمی په لاس کي پارچه د کاغذونو او اسنادو په ځای تری اخیستل کیږی بله دوه چنده د جریمی پارچه ورکول کیږی او هغه لومړنی پارچه بیرته د سندونو په توګه تری اخلی.

- ډریور مجبور دی چي دویمه پارچه تحویل کړی او د بانك سند د ترافیکو دویم محل ته ورکړی او د جریمی لومړی پارچه تر لاسه او په بانك بیا د لومړنی پارچی له مخی پیسی تحویلی کړی او د بانك د تحویل دویم سند لومړی مرجع ته یوسی چي د موټر کاغذونه تر لاسه کړی.

- د تحویلی لپاره که چیری یې ژر تحویل کړی نو به وکړای شی چي اسناد له لومړنی ترافیك څخه چي وظیفه یې لاختمه نه وی د جریمی د تحویلی د پارچی په صورت کي تر لاسه کړی او که وخت زیات تیر شی بیا به د ترافیکو مرکزی حوزی ته ورځی او هلته به لږ نوره جریمه ورسره لدی املې چي ناوخته ورغلی زیاته کړی او که هلته هم ورسره معلوم نه شو مرکزی دفترته به په اسنادو پسی ورځی.

- چي څومره په تحویلی کي زیات وخت ونیسی هم به یې جریمه زیاتیږی او هم به یې اسناد نورو دفترونو ته له جریمو سره ځی په ګاونډیو هیوادونو کي د اختلاس د مخنیوی لپاره همداسی قید لاری د ترافیکو او ډریورانو لپاره جوړیږی که چیری زموږ په هیواد کي ترافیکی لاری چاری په همدی ډول روانی شی امید دی چي ډریوران به د کار د وروسته پاتی کیدو د مخنیوی لپاره په لومړی ګام کي قوانینو ته سرتیټ کړی په ترافیکو به تورونه هم له منځه لاړ شی او هم به د دولت عواید زیات شي. هغه زمینه به هم له منځه لاړه شی چي د ځینو ترافیکو او موټروانانو لپاره برابره شوی ده.

منصدی: نرگس

زن راء مادر راء ستایش کنیم!

پەرښتیا هغه د حسن او ښایسته ډیوه وه؛ د ښکلا بل څراغ او پانوس وو خودا وخت ورته په کتو دهر با احساسه انسان له زړه وینې ځخیدې په ډیر بې وسه ناهیلې اوغمجن حالت یې یوه یوه خبره له خولې را ایستله، کتل مې چې هغې خپلې ژړا ایساره کړه پوهیدم چې پر اروا یې دغم وریځو سیوری کړی و دزړه په زور یې وویل «نه بوهیږې چې ما دا کار ولې وکړ. او ولې دې ته مجبوره شوم اوس درته ټوله کیسه کوم، هغه وخت چې زه پنځلس کلنه وم او ایله مې په بدن کې دپیغلتوب ښکلا څرك وهلی و داسې وخت و چې نه مې ښایسته پیژنده او نه په مینه پوهیدم چې کله به ښوونځی ته تلم اویا به له ښوونځی دکور په نیمت روانه وم نو پر لاړ به راته شوخو زلمیانو څنګ او څټ واهه یوه نیم ته به مې له خولې بدرد ووتل، دغه حالت یوازې همدومره پوهولم چې خلك مې پرپیغلتوب او ښایست باور لري یا دا چې ووایم، زه پیغله شوې یم.

یوه ورځ زمونږ کور ته دخپلوانو شنه ډله ښځې راغلې وې زمونږ دکور ټولې ښځې ورسره ناستې وې چا ټوکې کولې او چا څه څه ویل، دا وخت یوې هم له ما سترګې نه اړولې پوهه شوم چې دښځو خیال او فکر زما په خدای (ج) راکړی ښکلا کې ورك دی، حیا راغله څه مې بانه کړل او کوټې ته ننوتم د کړکۍ تر خوا مې د ښځو خبرو ته غوږ ونیو، یوې ووېل: آ دنیا مې له خپو وایستله خو دهوسی په شان ښایست مې ونه لید.

آبلې ورسره غبرګه کړه خدای دی یې له بدو سترګو وساتی سمه دچین ښاپیرۍ ده. دنګه ونه، بادامی آبی رنګه سترګې، الوول زلفې او ..... ویم د کوم طالعمن به یې په قسمت کې وی، یوې به لږه شیبه یې سترګې بې حرکته وی بیا یې وویل: ما هم ددغې نړۍ دیوې انسانې په توګه حق لازه چې په زړه کې دیو چا مینې ته ځان ورکړم. دخپل زړه په ښایست حرم کې د یو چا تصویر ته د الفت او محبت تاج ور پسر کړم دیو چا له یاد سره دخپل راتلونکی ژوند په باب هیلې او امیدونه وترم. زما دخیال او فکر په مانې کې دمینې همدا شان یوه نغمه غږیده دهمداسې یوه جرس آواز او ازانګو مې ویده اروا ویښوله. همداسې یو تصویر مې د زړه میوند فتحه کړی و خو دا مې ځکه نه شوه ښکاره کولی چې زه یوه پیغله وم او هغه هم پښتنه پیغله.

دهوسی شونډې ورپیدې څه خبرې یې پر زړه وې پر وویل: هوسی! په خوانی دې برکت شه، خدای دی روغتیا په برخه کړه کیسه ډیره په زړه پورې ده، هیله کوم چې کیسه بشړه کړې هغې په ناهیلې انداز له اوښکو ډکې سترګې رواړولې، او د زړه په زور یې کیسه داسې پیل کړه: د درته وایم یې، یوه خبره هم درنه نه پټوم؛ زلمې زمونږ نړۍ خپلوان و دهغه اخلاقو اوښایسته ځوانی زما په زړه کې دهغه لپاره کور جوړ کړی و. چې به ښوونځی ته تلم نو خامخا به مې یو ځل له هغه سره لیدل، هغه زما په مینه کې دومره له ځانه ورك و چې به دې ورته کتل، تا به ویل، چې کوم مجنون یا لیونې ته ګورم، مور یې څو ځله زمونږ کور ته په جرګه راغله، خو پلار مې په کلکه نه شوه ښکاره کولی خو دمور په خوله مې هغه ته دخپل تصمیم په باب احوال ولیږه خو افسوس چې ځای یې ونه نیو.

دهوسی سترګې بیا له اوښکو ډکې شوې مور دکیسې په باب پایلې ته نږدې شوی وو ورته مې ووېل ښه نو بیا څه وشول هغه ښه ډیره شیبه خاموشه وه بیا یې ووېل: بیا دا وشول چې په یوه نا اشنا ځای کې یې ورکړم یوه پوخ عمری سړی ته چې بل واده یې هم لاړه زما پلار زما زړه ته ونه کتل او زما ګلاب ځوانی یې دځو پیسو لپاره خرڅه کړه بیا نو ماټولې هیلې له لاسه ورکړی بله هیڅ چاره مې نه وه ژړا ویر او فریاد نور خپل ارزښت له لاسه ورکړی و بیا مې نو خپل وروستی تصمیم ونیو. پوهیږې چې څه مې وکړل؟ هوسی له څه په سنجیده انداز خپله وروستی جمله داسې وویله بیا مې نو یوه لوټه تیل په ځان راواړول او تیلی مې ځانته وواهه.

هغې دا وویل او په بې وسه انداز یې له مورِ مخ واړاوه مورِ لا دهغې پر سوی بدن دسپینو مالوچو پاغوندو ته کتل چې دکوټې دروازې بیرته شوه کتل مو چې یو مشر ډاکټر له څو نورو روغیتا پالو سره کوټې ته ننوت چې یې له مورِ سره یې کمري اوتیپونه ولیدل، نو یې وویل: لکه چې ژورنالیستان یاست، ښښه غواړم د ناروغې روغتیایی حالت لا دې وړاندې چې ورسره مرکه وکړئ خپه نه شئ، لطفاً دناروغ مزاهمت مه کوئ.

زمونږ مرکه پوره شوې وه ډاکټرانو ته مو د (هوکی) سرونه ورخوځول مورِ دواړو د وروستی ځل لپاره هوسی ته وکتل دهغې له سر او زنې د تاو شوې سپین ململ پټې زمونږ د ذهن وروستی تصویر و چې دروغتون له کوټې دباندې ووتو.

دهغوی غوښتنې رد کړی پوهیږې چې ما دا وخت کوم اخلاقی جرم وکړ؟

زړه مې دزمري کړ، د دنیا شرمونه مې یوې خواته کړل سترګې مې بدې کړی او خپلې مور ته مې دزړه غوټه پرانیستله، یو کتاب خبرې مې ورته وکړې، ورته مې وویل اول خو مې هیچاته مه ورکوی او که بیا مې ورکوی نوله هوس نه بل څوك نه کوم. هغه زمونږ خپلوان دی او زه له هغه سره مینه لرم.

لومړی خو مې مور هم راته ستوغې وکړې بیا چې زما له دریځه خبره شوه نو په نا هیلې انداز یې وویل: بچې! زه هم انسان یم ستا په خبرو پوهیږم ستا اوښکې راته ستا دنیت کیسه کوی خو څه وکم مادې پلار ته کوم شل واره وویل خو هغه زما خبره کله منی واك خودهغه دی.

پلار ته مې دخپل زړه خبره کړم چې ددنیا ټولې کیسې رانه هیرې شوې ما به دخپل شوخ او بشاش حسن په پلوشه کې دښایست فلسفه لټوله، دژوند دړې یا څلور پسرلیه مې نور هم پسې واوښتل، دا وخت دخپل پیغلتوب په معراج ته رسیدلې وم خو یوې مینې مې احساس ځوراوه، یوې رنګینې ښکلا مې پر خیال او فکر سیوري کړی و او ...)

هوسی دا وویل او په ژړغونې حالت یې شونډې وچیچلې فکر کیده چې کوم درد یې دزړه حرم ته ورننووت، کومې څړیکې یې اروا وګوابله سترګې یې له اوښکو ډکې شوې داسې معلومیدله چې په خبرو کې یې له ډیره احتیاطه کار اخیست ډیر څه یې دزړه له تاج محله نه ایستل، نه یې غوښتل چې دزړه غوټه په اسانه پرانیزی. ژبه یې رانغلې لیدل مې چې اوښك څو نور څاڅکې یې هم له سترګو وڅخیدل، دا وخت یې خولې ته زګیروی راغی، بیایې یوه اوږده ساه واخیسته ویې ویل: (هو زه پښتنه پیغله وم، ځکه مې خپل انتخاب چاته نه شو ویلای، زمونږ کور ته به هره ورځ زما دریشتې لپاره ډله ډله ښځې را روانې وې، خو زما پلار به په یو او بل دلیل ځوابولې، زه پوهیدم چې له ما سره څوك مشوره قدري هم نه کوی، زما دبرخلیك په باب به کله هم زما رایه ونه پوښتلشي، زه پوهیدم چې له مانه د انتخاب حق اخیستل شوی او په دې باب زما پریکړه هیڅ ارزښت نه لري. زه همدې خبرې څورولم.)

هغې خبره وژوله لکه چې نور یې نه غوښتل کیسه وکړی داوخت مې ورته ووېل: هوسی! په خوانی دې برکت شه، خدای دی روغتیا په برخه کړه کیسه تصمیم په باب احوال ولیږه خو افسوس چې ځای یې ونه نیو.

دهوسی سترګې بیا له اوښکو ډکې شوې مورِ دکیسې په باب پایلې ته نږدې شوی وو ورته مې ووېل ښه نو بیا څه وشول هغه ښه ډیره شیبه خاموشه وه بیا یې ووېل: بیا دا وشول چې په یوه نا اشنا ځای کې یې ورکړم یوه پوخ عمری سړی ته چې بل واده یې هم لاړه زما پلار زما زړه ته ونه کتل او زما ګلاب ځوانی یې دځو پیسو لپاره خرڅه کړه بیا نو ماټولې هیلې له لاسه ورکړی بله هیڅ چاره مې نه وه ژړا ویر او فریاد نور خپل ارزښت له لاسه ورکړی و بیا مې نو خپل وروستی تصمیم ونیو. پوهیږې چې څه مې وکړل؟ هوسی له څه په سنجیده انداز خپله وروستی جمله داسې وویله بیا مې نو یوه لوټه تیل په ځان راواړول او تیلی مې ځانته وواهه.

هغې دا وویل او په بې وسه انداز یې له مورِ مخ واړاوه مورِ لا دهغې پر سوی بدن دسپینو مالوچو پاغوندو ته کتل چې دکوټې دروازې بیرته شوه کتل مو چې یو مشر ډاکټر له څو نورو روغیتا پالو سره کوټې ته ننوت چې یې له مورِ سره یې کمري اوتیپونه ولیدل، نو یې وویل: لکه چې ژورنالیستان یاست، ښښه غواړم د ناروغې روغتیایی حالت لا دې وړاندې چې ورسره مرکه وکړئ خپه نه شئ، لطفاً دناروغ مزاهمت مه کوئ.

زمونږ مرکه پوره شوې وه ډاکټرانو ته مو د (هوکی) سرونه ورخوځول مورِ دواړو د وروستی ځل لپاره هوسی ته وکتل دهغې له سر او زنې د تاو شوې سپین ململ پټې زمونږ د ذهن وروستی تصویر و چې دروغتون له کوټې دباندې ووتو.

وروستی تصمیم

لنډه کیسه

امرالله امید

نقش ناخودآگاه زن در تعیین جنس فرزند در مقاطع بحرانی!

مطالعه ای که نتایج آن در نشریه آکادمی ملی علوم آمریکا چاپ شده است می گوید زنان باردار در دوره هایی که با اضطراب شدید مواجه هستند ممکن است به طور ناخواسته به نوعی درگیر انتخاب جنس فرزند شوند.

این یافته ها، که بر مطالعه داده های تاریخی تولد و مرگ از سوئد استوار است، استدلال می کند که ممکن است زاییدن دختر در زمان قحطی از لحاظ تکاملی دارای مزایایی باشد.

این نظر موید دیدگاهی است که می گوید ممکن است سازوکاری هورمونی برای سقط جنین هایی که کمتر شانس بقا دارند وجود داشته باشد.

معمولا به ازای تولد هر یکصد دختر در حدود ۱۰۴ پسر متولد می شوند. اما در دوره های بحرانی مانند زمان قحطی، این نسبت کاهش پیدا می کند و به نظر می رسد جنس مذکر بیشتر ضرر می بیند.

در این موضوع بحثی نیست. آنچه جنجال آفرین است توضیحی است که بزای آن ارائه می شود.

آیا علت این است که احتمال آسیب دیدن جنین های مذکر در چنین مقاطعی بیشتر است و بنابراین پیش از پایان دوره حاملگی تلف می شوند؟ یا این که، آنطور که برخی دانشمندان استدلال می کنند، یک برنامه بیولوژیکی هست که در زمان های بحرانی به کار می افتد و ضعیف ترین جنین های مذکر را سقط می کند؟

نظریه های علمی می گوید که به لحاظ تکاملی مزیت داشتن دختر این است که در دوران های سخت دخترها ژن پدر و مادر را بهتر منتقل می کنند.

بحث های داغی در این زمینه از هر دو سو جریان داشته است.

اما نویسندگان یک مطالعه تازه استدلال می کنند که اگر ترفندی عمدی برای نابودی جنین های ضعیف وجود داشته باشد، در آن صورت پسرهایی که در دوران های سخت به دنیا می آیند به طور متوسط قوی تر از آنهایی هستند که در زمان های عادی متولد می شوند.

رکوردهای تاریخی تولد و وفات از سوئد ظاهرا این ادعا را تایید می کند؛ به نظر می رسد مردانی که در زمان های سخت به دنیا آمده اند عمر درازتری داشته باشند.

اما حتی اگر سایر محققان این یافته را بپذیرند، سازوکار زیستی که عامل سقط ناخودآگاه جنین است همچنان یک معما باقی خواهد ماند.

څه ليدلي څه اوريدلي

اشرف

تليفون د ژوندانه يوه ضروري اړتيا ده او له نيکه مرغه دغه اړتيا د افغان بيسيم شرکت او د روشن په جوړيدو سره که له منځه لاړه خو زمور د خلکو جيبونه يې هم د ازاد بازار له برکته تش کړل او په ډيرو انتقادونو او غوښتنو يې دهيواد والو اوازونه ټپ کړل.

دموکراسی او ازادی خو همدی ته وايی چې هر څوک کولای شی خپل روا انتقادونه په لوړ اواز په لوډسپيکر کې ووايی خو د اجراآتو تمه بايد ونه لری ځکه چې د ازاد بازار ځانګړتيا وی همداسی وي چې هر څوک بايد په خپل سر وي!!!

څو موده د مخه يو لوړ پوړی چارواکی وويل: که چيری خلک د روشن له زيات لګښت څخه په تکليف دی د افغان بی سيم کارت دی واخلی د هغه نظر چې ګڼی دا شرکت ارزانه دی!

خو دا يی ونه ويل چې سمه ده مونږ به د روشن د ځارنی او کنترول په هکله هڅه وکړو.

دری کاله د مخه هم داسی خبری ښی تودی وروسته د ارزانی علت د شرکتونو تر منځ سيالی د نوو شرکتونو راتګ او د بريښنا د شبکی پراخوالی دی له افغان بی سيم او روشن شرکتونو څخه چې دخلکو په خدمت کې وو دريم شرکت په کارلاس پوری کړی دی او څلورم شرکت هم را روان دی نو ټول به څلور شرکتونه يو له بل سره د پيسو په کلونو په موده کې دومره پانګه راټوله کړی لکه څومره چې افغان بی سيم او روشن شرکت را غونډه کړه او د خپل جوړيدو له وخت څخه يې تر اوسه پوری د يوه هيوادوال غږ په غوږو نه دی اوريدلی او هغه څه يې اوريدلی دی او سرته يې رسولی چې خپل ګټی يې وی چې د سيم کارتونو او لګښتونو شرکتونو يی عملی کړی چې دوه او دری سنته شی او ولی يوه سالمه او له عدالت څخه ډکه سيالی رامنځته نه کړی که واقعاً خلکو ته د خدمت خبره وی چې نه سيخ وسوزی او نه کباب.

خو ګورو چې خبره يو طرفه روانه ده او خلک مجبور دی نو بايد په خپل لباس او خوراک کې کم والی راولی او وچه تيږه تر غاښ لاندی ميده کړی د سوداګری وزارت نورو ډيرو پانګوالو ته جوازونه ورکړی چې دلته خپلی پانګی په کار واچوی که چيری هغوی د دغو شرکتونو په لاړو روان شول او يا خو دوی ورته په غوږ کې اذانونه وکړل نو بيا د خدای خير را پيښ کړي وطن به شرکتونو نه پريږدو او مونږ به د يوی مړی ډوډی په خاطر تری بل لوری ته مجبوراً کوچيږو.

نو اوس د شرکتونو خوښه او د مخابراتو وزارت خوښه ده چې شرکتونو ته ګوری او که د خلکو سوکالی او مظلوميت ته.

ثه ليدلي ثه اوريدلي

اشرف

دا سالم رقابت نه پوهيږو چې د خلکو په ګټه و او که د دواړو شرکتونو په ګټه! دغه ډول لګښتونه در واخله اوس به څه کيږی د مخابراتو وزارت په وايي چې په راتلونکو درو کلونو کې به مبايل باندی د هری دقيقی تليفونی تماس د هيواد په دننه کې له لسو او ۱۵ سنتو څخه تر دوو درو سنتو پوری لږ شي.

دا هم ورسره زياته شوه چې له درو کلونو راهيسی کې به سبای کې وراندی شی.

زمور خلک به ددی ځلورو شرکتونو په شته والی سره دری کاله انتظار وباسی چې د هری دقيقی بيه دوو يا درو سنتو ته راکښته شی.که فرضا دغه خبرهم رښتيا وبولو او ددغی ارزانی لپاره انتظار وباسو لکه چې د روشن او افغان بی سيم لپاره مو ايستلی و نو ليری نه ده چې دغه دوه نوی شرکتونه به هم د درو بيی يې لوری او بنکته کړی دی. او که چيری ددغو ټولو شرکتونو د ګټو خبره نه وی نو د مخابراتو وزارت کولای شول او يا کولای شی چې د بهرنيو شرکتونو په وراندی تاکلی حدونه په پام ونيسی او ترمنځ يې لاسليک شي دوی دری کاله وروسته د يوی دقيقی بيه دوواو درو افغانيو ته راکښته کوی بايد دا کار د شرکت دکار له پيل څخه وکړی او په ټولو انواع خشونت ، ولی بدترين و خطرناکترين خشونت ها خشونت روحی عليه اطفال و زنان است.

خشونت و جنگ ، فرهنگ خشونت و جنگ را می پراگند.

فرهنگ های باز و مفيد و انسانی و اسلامی "صلح" را توصيه می کند و خشونت را می کوبد ، ورد می کند زيرا انسان از محبت و انسانيت و دوستی و صلح امده و برخورد ادمی بايد انسانی و صلح اميز و محبت اميز باشد .

بزرگان فرهنگ ما مولانا جلال الدين بلخی گفته: "از محبت خارها گل می شود"

تاريخ فرهنگ اسلامی تاريخ محبت ها وصلح ها و دوستی ها است ، سيرت پيامبر بزرگوار اسلام (ص) که زبان گويای فرهنگ عالی مقام اسلام است نمايانگر صلح و محبت و معرفی کننده فرهنگ صلح و محبت است.

فرهنگ باز و صلح

رحمت الله

فرهنگ مجموعه از دستاورد های مادی و معنوی يک جامعه است و فرهنگ است که هويت يک جامعه و يک ملت را معرفی می دارد ، و انسان يک جامعه را تربيت می نمايد.

فرهنگ ها در جوامع مختلف ، تفاوت سيلقه وی دارد. بعضی فرهنگ ها بسته است يعنی تحقيق و مطالعه و نو اوری در ان مجاز نيست و از پويايي ان جلوگيری می شود. ويکی فرهنگ های "باز" است که در ان تحقيق و پژوهش مجاز است. فرهنگ باز مباحثه ، تماس،ديالوگ و ديالتيک را با ديگران مجاز می داند. فرهنگ باز به طرف غنامندی و خلاقيت می رود. در فرهنگ های باز اصلاحات تجديد و نو اوری مجاز است.

جنگی که در افغانستان به وجود امد هم پيامدهای با خود داشت می دانيم که جنگ ها دوگونه اند:

يکی جنگ های غير عادلانه و ديگری جنگ های عادلانه جنگی که برای دفاع از استقلال ملی، دين، ناموس وعزت جامعه باشد ضرورت است ولی جنگی که تحميلی و بی مفهوم و به اثر مداخله و فرماندهی اجانب باشد غير عادلانه و جفا به ملت و مردم است.

جنگ خشونت می اورد خشونت انواع گوناگون دارد.

خشونت زبانی ، خشونت فزيکی، خشونت روحی و

پاسخ به خبر...

در شماره (۸۸) مورخ يکشنبه ۲۱ حوت سال روان مطلب کوتاهی تحت عنوان "اختلاس در وزارت معارف" در ان روزنامه به نشر رسيده بود گر چه وزارت معارف موضوع را رد نمی نمايد و همچنان ردیابی این اختلاس از کشفيات کارمندان رياست مستقل مبارزه با ارتشاء و فساد اداری نبوده ، بلکه به اثر پيشنهاد مکرر وزارت معارف که از رياست محترم مبارزه با ارتشاء و فساد اداری تقاضا گرديده بود تا کار کردهای اين وزارت را در سال ۱۳۸۴ که سال روبه اختتام است بررسی نمايند.

خواستار اخراج...

وزيرستان شمالی که در مرز کشور واقع شده است در اين اواخر مورد حملات شديد اردوی پاکستان قرار گرفته است. اين افغانها در زمان تجاوز نيروهای شوروی در سال 1980 به اين مناطق مهاجرت نموده بودند روز شنبه راديوی محلی وزيرستان از قول ظهير الاسلام فرمانده محلی پاکستان گفته بود که انان خواستار اخراج تمام خارجی ها بخصوص افغانها از ين ناحيه هستند اين در حالی است که چندی پيش شرکت عزيز نخست وزير پاکستان حکومت افغانستان را به مداخله در نارامی های وزيرستان شمالی متهم کرده بود که موضوع از طرف مقامات افغانستان تکذيب گرديد در حملات اخير درين منطقه نزديک به دوصد تن از طرفداران طالبان به هلاکت رسيده اند.

انتقاد از ...

جمع از موسفيدان و بزرگان تخار به اتفاق والی اين ولايت به منظور نشان دادن اعتراض شان به دفتر پی ار تی رفته و از مسوول تيم بازسازی ولايتی که مسوول تمامی برنامه ريزی سربازان خارجی درين ولايات است خواسته اند تا جلو بازرسی منازل شخصی مردم بدون اطلاع مقامات ولايت بگيرند والی تخار ضمن اينکه اين عمل نيروهای ائتلاف را غير قانونی خواند گفت اگر نيروهای ائتلاف کدام مورد مشکوک را کشف ميکنند و ميخواهند منزل کسی را بازرسی کنند بايد پوليس تخار را در جريان بگذارند مسول پی ار تی در ولايت تخار از وقوع چنين حادثه اظهار بی اطلاعی کرده و به نماينده های مردم وعده داده است که درين مورد تحقيق خواهند کرد پيش از ين بازرسی های منازل مسکونی توسط سربازان ائتلاف در مناطق جنوب کشور نيز سبب اعتراضات مردم شده بود.

دری تنه د هلمند...

ماين له امله يو تن دولتی پوليس مړ او ۲ تنه نور ژوبل شوي دي. همداشان د خانشين په ولسوالی کې هم د يوې بمی چاودنې له امله ۲ تنه عام وګړی مړه او يو بل ټپي شوي دي. په کابل کې د امريکا سفير د ټينګو امنيتي تدبيرونو په کړۍ کې د دغه ولايت له چارواکو سره وکتل او د بست تاريخي کلا ته يې دغزيدلي سړک د جوړولو کار پرانيست.

له ايران څخه د ...

دهغه اعلاميې له مخې چې پرون په کابل کې خپره شوې ويل کيږي چې دا ټرون له سړ کال څخه دراتلونکی ميلادی کال دمارچ تر مياشتې پورې تمديد شوی دی دا ټرون دايران په مشهد کې د ايران ، افغانستان او ملګرو ملتونو دکميسيون په ورستی ناسته کې شوې دی. په دې ناسته کې د دري واړو لوريو ترمنځ په هر اړخيزه همکاری او له ايران څخه افغانستان ته د افغان ګډوالو په تدريجی او داوطلبانه ليک ټينګار کوی.

اراده

زيرنظرهيات تحريرانتشار ميباشد

موسس وصاحب امتياز: حاجی سيد داؤد

مدير مسوول : سهراب ديدار

اراده در ويرايش و پيرايش مطالب دست باز دارد

آدرس: پروان مينه (ايستگاه سينمای بهارستان سرک مسجد حاجی مير احمد خانه نمبر ۹۵)

تيلفون موبايل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

روزنامه آزاد وملی نشريه مرکزنشراتی افغان

انديشه وعقايد مطرح شده ازسوی نويسنده گان به خودشان مربوط است

کمپوز و ديزاين: صديق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"

چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان

ERADA Daily

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center

Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)

Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)

eradadaily@hotmail.com

قيمت يك شماره ۳ افغانی